## مطبوعاتي اعلاميه

### د ۱۴۴۲ هـ.ق، د شوال د پیل اعلان او د کوچني اختر په پار د مبارکۍ پیغام

**الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الالله، الله اکبر، الله اکبر، و لله الحمد**

بسم الله الرحمن الرحیم، ټول ثنا او ستاینه دې وي د نړۍ او ټولو کایناتو پر خالق او رښتیني پاچا، صلوات دې وي د الله سبحانه وتعالی پر رسول صلی الله علیه وسلم، د دولت پر بنسټ ایښودونکي، سیدالخالقین، سیدنا محمد وعلی آله و صبحه وسلم!

احمد د محمد بن زیاد څخه روایت کوي چې هغه وویل؛ ما د ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه واورېدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ـ ابو القاسم وفرمایل:

**«صوموا لِرُؤيتِهِ وأَفْطِرُوا لرؤيتِهِ فإنْ غُبِّيَ عليكم فَعُدُّوا ثَلَاثِينَ»**

***ژباړه:*** *د میاشتې په لیدو سره روژه ونیسئ او د میاشتې په لیدو یې ماته کړئ او که اسمان وربځ و، دېرش ورځې پوره کړئ.*

په دې سپېڅلې شپه کې د شوال د نوې میاشتې له څېړلو وروسته د چهارشنبې ورځ، د شریعت سره سم د نوې میاشتې لیدل نه دي تایید شوي، له همدې امله چهارشنبه د روژې میاشت دوام لري، پنجشنبه د شوال میاشتې لومړۍ نېټه او د کوچني اختر لومړۍ ورځ ده.

حزب التحریر د کوچني اختر د سپېڅلې ورځې په پار، ټول اسلامي امت ته مبارکي وایي، له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو، چې راتلونکی کال اختر په داسې حال کې پر موږ راورسېږي، چې دولت مو تاسیس او بیرغ مو پر نړۍ خور وي. همدا راز زه له خپله طرفه او د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د مشر او ټولو ورونو او خویندو له طرفه د حزب التحریر امیر، جلیل القدر عالم، شیخ عطا بن خلیل ابو الرشته ته ځانګړې مبارکي وایم. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې د دغه دعوت په مشرۍ کې دې لاسته راوړنې په برخه شي تر څو د امت ځواک او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری د دویم راشده خلافت په تاسیس سره تر لاسه کړي.

سږ کال روژه بیا هم له ستونزو او کړاوونو خالي نه وه، چې لا هم د مستقیم یرغل له لارې اسلامي امت له ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګرېوان دی، لکه څنګه چې په مسجد الاقصی، یمن، سوریه، بنګله دېش، پاکستان، افغانستان، سوډان، نایجریا، قرغیزستان، روسیه، سومالیا او داسې نورو ځایونو کې مسلمانان له بېلا بېلو ستونزو وکړېدل یا هم د واکمنانو د بې پروایۍ او فساد له امله په عراق، مصر، هندوستان او نورو خاورو کې مسلمانان له ستونزو سره لاس او ګرېوان شول... په دغه سپېڅلې میاشت کې، په اسلامي خاورو کې نږدې ۲۰۰ میلیونه خلک له خوارځواکۍ سره لاس او ګرېوان دي او د یمن او سوریې نیمایي خلک له لوږې سره مخ دي. دغه راز په نورو اسلامي خاورو کې هم بېوزلي خپل اوج ته رسېدلې ده ان د واکمنانو د بې پروایۍ له امله د لمانځه پر مهال هم نه یو ارام، د ساري ناروغۍ د نه مدیریت له امله، مسلمانان له جوماتونو بې برخې شول او د جماعت لمونځ یې خراب کړ.

**اې هغو مسلمانانو چې تر ټولو غوره بشريت مو ملت ته راوړی!**

دا د يوه ملت څه ډول حال دی، چې هېواد يې د بحر الکاهل او هند سمندرونو تر منځ پر دهليزونو وېشل شوی، بېړۍوال يې د مديترانې، سره سمندر او تور سمندر مالکين دي!؟ دا د يوه ملت څه ډول حال دی، چې د نړۍ سوداګريزې لارې د دوی پر خاوره، سمندر او هوا تېرېږي او دهليزونه يې د پوځې تګ راتګ ربښې دي!؟ دا د هغه هېواد حال دی چې خلک يې د نړۍ تر ټولو د ډېرې شتمنۍ په درلودلو سره پر ځمکه ګرځي او هېڅوک يې د قدرت د ودې او ډېرېدو مخنيوی نه کوي!؟ دا څه ډول د يوه ملت حال دی چې د هند، چين او روسيې محاصره کولو، امريکا له نړيوال تسلط څخه ليرې کولو او په افريقا لويه وچه کې د اروپا نفوذ د پای ته رسولو وړتيا لري!؟

ځواب يې دا دی: خليفه عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه وويل: «کله چې امت د خلافت جامه له خپل ځان څخه ليرې کړه، الله سبحانه وتعالی د ذلت او سپکاوي پر جامه وپوښه.» له شک پرته چې الله سبحانه وتعالی موږ ته په اسلام عزت راکړ. که موږ له اسلام پرته په بل شي کې عزت ولټوو، بې عزته کېږو، نو د اسلام او مسلمانانو وقار او عزت به د خلکو او ملتونو تر منځ د خلافت د وقار له راستنېدو پرته نړۍ ته راستون نه شي.

**اې مسلمانانو... د نظر او رسنيو څښتنانو!**

د امت په منځ کې خلک په دې اند دي، چې خلافت رامنځ ته شي، خو دا يو چا ته اړتيا لري چې د دې پروژې جزيات روښانه کړي، چې غرب په دې مساله پوهېږي او هڅه کوي چې د خلافت نظريه ګډوډه کړي، تر څو د الله سبحانه وتعالی له شريعت پرته حاکميت ولري او امت سر پورته نه کړي. دا ستاسو لپاره د متفکرينو په توګه ښه وخت دی چې دا شکونه ليرې کړئ، چې شريعت د اوس لپاره کافي نه دی، ځکه چې دا نظريه د کفر له دروازو څخه سرچينه اخلي، په داسې حال کې چې شريعت اوس ټولو خلکو ته رسېدلی دی. حزب التحرير له قرآن کريم، سنتو او صحابه کرامو اتفاق او د اسلامي ميراث څخه په استناد، تاسو ته دا وړتيا درکوي چې د قدرت د تر لاسه کولو او عصري نړۍ د رهبري کولو لپاره د اسلام وړتيا درک کړئ. دا له حکومتولۍ نيولې تر اقتصادي، ټولنيزو، کلتوري، قضايي، فکري، سياسي چارو او نورو فصلونو په اړه پوره تفصيل لري، چې امت د خپل دولت جوړولو لپاره څه ته اړتيا لري. دا يو فرهنګ دی چې پکې د شرعي عظمت لاسته راوړل يوازې له اسلام څخه دي او د کفارو هېڅ نظر يا قانون له دې سره نه يو ځای کېږي.

**اې مسلمانانو... اې د قدرت څښتنانو او متنفذينو!**

ايا ستاسو په رګونو کې وينه توده نه ده، په داسې حال کې چې تاسو ګورئ چې بې شرمه واکمنان د غرب په کنفرانسونو کې له بادارانو سره د شتر مرغ په څېر حرکت کوي او په اسلامي هېوادونو کې د فرعونانو په څېر حرکت کوي!؟ ايا ستاسو د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر وړاندې د فرانسې دروغ او د خپل دين په اړه د امريکا پر بې احترامۍ سترګې نه پټوئ او د ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه زړورتيا نه دريادوي!؟ ايا پر مسلمانو مېرمنو د جنسي تېريو له امله مو زړونه درد نه کوي، چې د المعتصم په څېر راپورته شئ!؟ خبردار اوسئ چې الله سبحانه وتعالی مو آزمايي، نو د حزب التحرير له پروژې ملاتړ وکړئ او د نبوت پر منج د راشده خلافت د بيا تاسيس لپاره ژر تر ژره لاس په کار شئ، الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ ثُمَّ لا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ﴾ [محمد: ٣٨]

***ژباړه:*** *که تاسو مخ واړوئ، نو الله سبحانه وتعالی به ستاسو پر ځای کوم بل قوم راولي او هغوی به بیا ستاسو په څېر نه وي.*

الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الاالله، الله اکبر، الله اکبر، و لله الحمد

اختر مبارک مو مبارک شه، السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

**د ۱۴۴۲ هـ.ق، د چهارشنبې ورځ، چې د ۲۰۲۱م، د مي میاشتي له ۱۲مي سره سمه ده، چې د روژې میاشت پوره کیږي.**

**انجنير صلاح الدين عضاضة**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د رمضان ۲۹مه**

**۲۰۲۱م، د مي ۱۱مه**

**د صدور ګڼه: ۰۳۴/ ۱۴۴۲**

